
# دامیرِ اهلِسُنَّت ورہ ومبنے

# حج 1980ء

پښتو



پیشکش:

مجلس المدینة العلمیه (دعوتِ اسلامی)

ترجمو:

ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

# وړومبے دا اولولئ

عاشقِ مدینه، شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي ضیائي دامت برکاتهم العالیه ته په کال 1400 هجري بمطابق 1980ء کښې د وړومبي حج سعادت نصیب شو. د امیرِ اهلِسُنَّت په مکه مکرمه او مدینه منوره کښې د حاضرئ د ځانګړي انداز او نورو معمولاتو، عمرے او د حج د ارکانو ادا کولو د کیفیتونو په بیان کښې د عاشقانِ رسول خاص طور حرمین طیبین (مکے او مدینے) ته د تلونکو د پاره د تربیت او ذوق او شوق زیاتولو ډیر څه دي. د امیر اهلسنت دامت برکاتهم العالیه دا مبارک سفر د "**شعبه هفته وارې رسالے**" له اړخه په تحریري صورت کښې وړاندې کیږي. د دې وړومبے قسط "**د امیر اهلسنت د مدینے وړومبے سفر**"، دویم قسط "**د امیر اهلسنت د مدینے د سفر واقعات**" په نوم وړاندې کړے شوے دے، اوس دریم قسط "د امیر اهلسنت وړومبے حج (1980)" ستاسو د وړاندې دے.

د نن نه زیات و کم 44 کاله مخکښې په کال 1980 کښې د آډیو، ویډیو ریکارډنګ یا لیکلو باقاعده سلسله نه وه چې د سفرِ حج تفصیلي حالات محفوظ کړے شوے وے. په دې رساله کښې د شاملو معلوماتو او واقعاتو د پاره زیاته مرسته د "مدني مذاکرو" او د مدني چینل د نورو سلسلو نه اخستے شوې ده ځکه چې د ډیرو پوښتنو په جواب کښې یا په ضمني طور باندې امیر اهلسنت دامت برکاتهم العالیه د وړومبي حج د سفر څه نا څه حالات پخپله بیان کړي دي، د دې نه علاوه د نورو ذریعو نه هُم معلومات حاصل کړے شول، دغسې د وس مطابق د کوشش کولو سره په صحیح معلوماتو مشتمله دا رساله د ضروري ترمیم او اضافے نه پس مرتَّب کړے شوې ده. اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دې مبارک سفر د څلورم قسط "**د امیر اهلسنت د مدینهٔ پاک نه جدائي**" د زر وړاندې کولو کوشش دے. هره هفته د دعوتِ اسلامي په سوشل میډیا او خاص طور په مدني مذاکره کښې په مدني چینل باندې چې د کومې رسالے لوستلو اعلان کولے شي هغه خامخا لولئ یا اورئ. **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د حج او عمرے سعادت رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللهُ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم .

ابو محمد طاهر عطاري مدني عُفِيَ عنه

(شعبه: هفته وار رساله، المدینةُ العِلمیة)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت وړومبنے حج 1980

دُعائے خلیفۀ امیرِ اهلِسُنَّت: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د امیرِ اهلِسُنَّت وړومبنے حج" اولولي یا ئې واوري هغه ته بیا بیا د حج او زیارتِ مدینه سعادت نصیب کړې او بے حسابه او بے کتابه ئې په جنت الفردوس کښې د خپل خوږ خوږ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاؤنډي جوړیدل نصیب کړې. اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: فرض حج اوکړئ، بے شکه د دې ثواب په شلو غزواتو کښې د شرکت کولو نه زیات دے او په ما باندې یو ځل درودِ پاک لوستل د دې برابر دے. (فردوس الاخبار، 339/1، حدیث:2484)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مُرشد اطاعت

د اَشهُرِ حج (یعنې د حج د میاشتې) برکتي ورځې رارسیدلې وې، د حج او زیارت مدینه په شوق کښې د حاجیانو صاحبانو قافلے د حجاز مقدس (یعنې عرب شریف) په لور رارواني وې. د دې خوندورې هوا چلیدو سره د عاشقِ مدینه شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي ضیائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه په زړه کښې د حج شوق زیات شو خو مجبورې ئې دا وه چې هغوئې د عمرے په ویزه باندې حرمین شریفین ته

حاضر شوي وو، د هغوئي خوش قسمتي وه چې د انتظاميه له خوا اعلان اوشو چې د حج اخراجات جمع كوونكي حج كولے شي. په هاغه ورځو كښې د حج اخراجات 425 يا 500 رياله وو. بعضې خلقو اووئيل: څوک تپوس نه کوي، مکے ته ځو، حج به اوکړو د رقم ورکولو څه ضرورت دے؟ خو عاشقِ مدينه ډير حسّاس وو، هغوئي د خپل پير او مرشد سيدي قطبِ مدينه مولانا ضياءُ الدين احمد مدني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت كښې دا خبره عرض كړه نو پير و مرشد ئې اوفرمائيل: "قانوني حج اوكړه!" مريدِ كامل د پيرِ كامل په فرمان باندې لَبَّيك اووئيلو او خپل پاسپورټ ئې د يو دوست په ذريعه د ايجنټ سره جمع كړو، ايجنټ پاسپورټ د حج د ويزے د پاره جدے شريفې ته اوليږو، د يو څو ورځو تيريدو باوجود هم چې پاسپورټ واپس رانغلے نو د هغوئي بے قراري په زياتيدو شوه، ځکه چې د حج موسم شروع شوے وو او د حاجيانو صاحبانو قافلے عرب شريف ته رارواني وې. لکه چې څه داسې كيفيت وو...

عَرَفات اور مُزْدَلفہ اور مِنٰی چلوں حج کرلوں حَق سے اِذْن دِلا دیجئے حُضُور

دغه وخت د امير اهلسُنت "په مدينهٔ پاک" كښې په يو ځائے كښې د كراچۍ د يو عالم صاحب حضرت مولانا جميل احمد نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره ملاقات اوشو.[1] هغوئي چې د عاشقِ مدينه دا پريشاني اوليده نو اوئې فرمائيل: "ما ته د مدينے په كوڅو كښې يو بزرګ د دې وظيفے اجازت راكړے وو: "قَلَّتْ حِيْلَتِيْ اَنْتَ وَسِيْلَتِيْ اَغِثْنِيْ يَارَسُوْلَ الله"[2] زه هم د مدينے په كوڅو كښې د دې وظيفے تاسو له اجازت دركووم، د مراد پوره كيدو د پاره دا وظيفه ډيره ښه ده." عاشقِ مدينه يو څو ځل دا وظيفه لوستلې وه چې په پاسپورټ ئې ويزه اولګيده او راغلے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دغسې د امير اهلسنت د وړومبني حج اسباب مكمل شول.

---

[1] ...حضورسيدی قطبِ مدينه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغوئي له خپل خلافت هم وركړو.

[2] ... د "اَغِثْنِيْ" په ځائے "اَدْرِكْنِيْ" هُم لوستلے شئ.

مل گئی کیسی سعادت مل گئی  مجھ کو اب حج کی اجازت مل گئی

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ساداتِ کرامو سره د حج د پاره روانیدل

په مدینهٔ پاک کښې د قیام په دوران کښې د هغوئي د ډیرو عاشقانِ رسول سره ملاقات اوشو او د هغوئي په کَرم جوشئ سره د ملاقات او ښو اخلاقو په وجه د بعضې حضراتو سره دوستي هم اوشوه، په هغوئي کښې بعضو ساداتِ کرامو د هغوئي سره ډیر محبت کولو هغوئي چې هم د حج اراده اوکړه نو امیرِ اهلسنت ته ئې ځان سره د بوتللو بلنه ورکړه، عاشقِ مدینه ورته ښه اوکړه. د الله پاک په فضل او کرم سره دغسې د یو څو کَسانو وړه شان قافله تړول احرام تړلي ”د حجِ قِران“[1] په نیت کولو سره د مدینهٔ پاک نه د مکے مکرمې په لور روان شول. د الله پاک په بارګاه کښې امیر اهلِسُنَّت په ”وسائلِ بخشش“ کښې عرض کوي:

جس جگہ آٹھوں پَہَر اَنوار کی ہیں بارِشیں  ایسی نورانی فضاؤں میں بلایا شکریہ

## اے الله پاکه! زه حاضر یم

حج له د راغلو حاجیانو صاحبانو د زیاتوالي په وجه د بَلَدُ الامین (یعنې مکهٔ پاک) نورانیت په خپل عُرُوج وو. عاشقِ مدینه د طواف او سعي د سعادت حاصلولو سره عمره شریف مکمله کړه. حجِ قِران کوونکي ته طوافِ قُدُوم[2] کول وي هغوئي دا هم اوکړو. د دې نه پس هغوئي د حضرت امام زین العابدین رحمۃ اللہ علیہ د دې واقعے په تصور کښې ډوب شولو چې کله هغوئي

---

[1] ... دا د حج د ټولو نه افضل قسم دے. (د تفصیلي معلوماتو د پاره د بهارِ شریعت 1/1155، حصه: 6 او رفیق الحرمین اولولئ.)

[2] ...د میقات نه بهر راتلونکے چې په مکهٔ معظمه کښې د حاضریدو سره د ټولو نه وړومبے طواف اوکړي هغې ته طوافِ قُدوم وئیلے شي. د ”قِران“ کوونکو د پاره دا سنّتِ مُؤَکَّده دے. (بهارشریعت،1/1050،حصه:6)

رحمۃ اللہ علیہ احرام اوتړلو نو ”لَبَّیك“ ئې اونه وئیلو. عرض اوکړے شو: یا سیدي! لَبَّیك؟ اوئې فرمائیل زما سره ویره ده چې هسې نه چرته په جواب کښې ”لَالَبَّیك“ اُونه وئیلے شي. عرض اوکړے شو ”حضور! د احرام تړلو سره لَبَّیك وئیل ضروري دي.“ څنګه چې هغوئي لَبَّیك اووئیلو نو بے هوشه شو او زمکې ته ئې تشریف راوړلو چې دا د کوم عظمت والا په بارګاهِ بے نیاز کښې د حاضرئ دعویٰ کووم. په ټوله لاره باندې د امام زین العابدین رحمۃ اللہ علیہ هم دغه حالت مبارک وو چې کله به ئې هم لَبَّیك وئیلو نو بے هوشه کیدلو به. (تهذیب التهذیب،670/5) د الله پاک دې په هغوئي باندې رحمت وي او د هغوئي په وسیله دې زمونږه بے حسابه بخښنه اوشي.

(عاشقِ مدینه دا سوچ کولو چې) آه! ما خو دغسې په آسانئ سره ”لَبَّیك“ وئیلو او راغلم. آیا د دې معنې ته مې هم سوچ کړے وو؟ لَبَّیك ”زه حاضر یم“ اَللّٰهُمَّ لَبَّیك ”اے الله زه حاضر یم“ اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكُ بے شکه هم ستا د پاره صفات، نعمت او بادشاهت دے“ لَا شَرِیْكَ لَكَ ستا هیڅ څوک شریک نشته.“ نه مې په بدن څه لړزان راغلو او نه مې بدن [د ویرې] اوریپیدو او نه راته دا احساس اوشو چې څه وایم.

جو ہیبت سے رُکے مُجرم تو رحمت نے کہا بڑھ کر　　چلے آؤ چلے آؤ یہ گھر رَحمٰن کا گھر ہے

## په ژوند کښې په وړومبي ځل حجرِ اَسود بنکلول

عاشقِ مدینه امیر اهلسُنت په دغه حج (1980) کښې په وړومبي ځل ”حجرِ اسود“ ښکل کړو او په مقامِ ابراهیم کښې د موجود هغه مبارک کاڼي زیارت ئې هم اوکړو، په کوم چې به حضرت ابراهیم خلیلُ الله علیہ السلام اودریدلو او کعبه شریفه ئې جوړوله. (ملفوظاتِ امیرِ اہلِ سنت، 277/3)

## پیدل حج

د دغه سفر په وخت د عاشقِ مدینه عمر تقریباً 30 کاله وو. هغوئي د خپلو ملګرو سره

د "پیدل حج" اراده اوکړه بیا د مکۂ پاک نه مِنیٰ شریف، د هلته نه عرفات او د هلته نه ئې د مزدلفے شریفې پورې پیدل سفر اوکړو.

**فرمانِ مصطفٰے** صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم: څوک چې د مکے نه پیدل حج له لاړ شي تر دې چې مکے ته واپس راشي د هغه د پاره به په هر قدم باندې 700 نیکئ د حرم شریف د نیکو په مثل لیکلے کیږي. عرض اوکړے شو: د حرم د نیکو څه مقدار دے؟ اوئې فرمائیل: هره نیکي یو لاکھ نیکی ده. (مستدرک للحاکم، 114/2، حدیث:1735)

حضرت مفتي محمد امجد علي اعظمي رحمۃ اللہ علیہ د دې حدیثِ پاک لیکلو نه پس ارشاد فرمائي: په دې حساب سره په هر قدم باندې ووه کروړه نیکئ شوې. وَاللهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِیْم (یعني او **الله** پاک لوئے فضل والا دے). (بهارِ شریعت، 1032/1، حصه:6 بتصرف قلیل)

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد غزالي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: که کیدے شي نو پیدل حج اوکړئ چې افضل دے. (احیاء العلوم، 391/1)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د عاشقِ مدینه رفیقِ سفر کتاب

د عاشقِ مدینه د سفرِ حج یوه ډیره ښکلې خبره دا ده چې! په دې مبارک سفر کښې چې کوم شاندار او عظیم کتاب د هغوئې رفیقِ سفر وو هغه د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ په احکامِ حج باندې مشتمل کتاب "اَنْوَارُ الْبِشَارَةِ فِیْ مَسَائِلِ الْحَجِّ وَ الزِّیَارَةِ"[1] وو. د مدینے

---

[1] ...امیرِاهلِ سنّت د "انوار البشارۃ فی مسائل الحج والزیارۃ" او د " بهارِ شریعت " وغیره په مرسته او د اوسني دور د ډیرو اهمو مسئلو د خپلو تجربو په رڼا کښې دوه جامع کتابونه په نوم د "رَفِیقُ الْحَرَمین" او "رَفِیقُ المعتمرین" لیکلي دي. د حج او عمرے په سفر کښې دا کتاب د ځان سره ساتل ډیر ضروري دي. کاش چې! "عاشقانِ رسول کی 130 حکایات" کتاب هم لولی نو په کیف او سرور کښې به ئې اضافه کیږي. تجربه شرط دے.

منورې په شان عاشقِ مدینه په مکه مکرمه کښې هم ښېپ ابله ښپې ګرځیدلو.

میں مکّے میں پھر آگیا یاالٰہی　　کرم کا ترے شکریہ یاالٰہی

## ځئ ځئ منٰی ته ځئ

چې د 8 ذُوالحج شریف ورځ راغله نو د ګڼ شمیر حاجیانو صاحبانو سمندر لکه چې د "ځئ ځئ مِنٰی ته ځئ" د آوازونو سره مِنٰی ته روان شو. په مِنٰی شریف کښې د عاشقِ مدینه قافلے والؤ په یو غر باندې د پاسه خیمه اولګوله. د ضرورت سامان غَله وغیره هم ورسره وه. په دې حج کښې په امیر اهلسنت باندې ډیر امتحانونه راغلل خو هغوئي د "رِضائے مَولٰی اَز ہمہ اَولٰی" یعنې د **الله** پاک خوښه د ټولو نه بهتره ده." په مصداق ثابت قدم پاتې شو. وړومبے امتحان پرې دا راغلے چې غر ته د ختلو او راکوزیدلو په وجه د هغوئي ملا جتهکه اوخوره. چې له دې وجهې پرې تڪلیف شروع شو. هغوئي د یو ملګري سره هسپتال ته تشریف یوړلو، معائینه ئې اوکړه او چې واپس راغلو نو د امتحان د پاسه امتحان پرې دا راغلے چې د خیمے ځائے ترینه هیر شو او هغوئي خپلې خیمے ته اونه رسیدل. دغسې امیر اهلسنت په وړومبئ ورځ د خپلې قافلے نه جُدا شولو.

## میدانِ عرفات ته حاضري

په 9 ذوالحج شریف چې کله د عرفے ورځ راغله نو په لکونو ضیوفُ الرحمان (یعنې د **الله** پاک میلمانه) حاجیانو صاحبانو میدانِ عرفات ته د تللو د پاره تیاریانې کولې. د حج د ټولو نه لوئے رُکن "وُقوفِ عرفه" دے. څوک چې د احرام په حالت کښې په 9 ذُوالحِجَّه د غرمې تیریدو (یعنې د ماسپښین د لـمونځ د وخت شروع کیدو) نه تر د لسم [ذوالحج] صبحِ صادق ترمینځه د یوې لحظے د پاره هم دې میدان ته داخل شو هغه حاجي شو. عاشقِ مدینه هم د خپل

هاغه ملګري سره د مِنیٰ شريف نه تقريباً يوولس کلوميټره لرې پيدل د ميدانِ عرفات په لور روان شو. آخر د عرفات هغه عظيمُ الشان او مبارک ميدان راغلے چرته چې د **الله** پاک خوږ، خوږ آخري نبي، مکي مدني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خپل ظاهري ژوند مبارک کښې د حج په موقع تشريف راوړے وو او د جبلِ رحمت سره ئې خطبه ارشاد فرمائيلې وه. د هرې عرفے په ورځ دوه انبيائے کرام حضرت خِضر او الياس عَلَيْهِمَا السَّلَام هم دې ميدان ته تشريف راوړي. په عرفات کښې امير اهلسنت په يو ځائے تيريدلو، يوې خيمے والا هغوئي ته عرض اوکړو: حضرت! په جمع دُعا راته اوکړئ. هلته هغوئي په بارګاهِ الٰهي کښې د سوز و غم په کيفيت په ژړا ژړا د اوښکو بهيدو سره په خپل خاص انداز کښې دعا اوکړه.

## د مزدلفے شپه

په يوه ورځ کښې د مِنیٰ شريف نه عرفات ته او د عرفات شريف نه د مزدلفے سفر او د مختلفو عبادتونو وغيره په وجه حاجيان صاحبان په دې شپه ډير زيات ستړي کيږي بس چې نوره ستړې پرې نه ځائيږي. امير اهلسنت د ميدانِ عرفات د حاضرئ نه پس د وقوفِ مزدلفه د پاره روان شولو نو په لاره کښې ئې مريضان، معذوران، ستړي شوي حاجيان صاحبان د بَل په اوګه اخستي اوليدل. په ټوله لاره د پيدل تللو په وجه د هغوئي ښپې اوپړسيدلې، د حاجيانو صاحبانو نه ډک ګاډي داسې تيز روان وو چې د چا په اشاره هُم نه اودريدل. اميرِ اهلسنت ډير ستړے شوے وو چې د **الله** پاک رحمت پرې اوشو او غيبي مدد ئې اوشو، د هغوئي په خوا کښې يو ګاډے اودريدو، په هغې کښې اُردو وئيلو والا يو څو کَسان وو هغوئي بلنه ورکړه چې: مونږه مزدلفے ته روان يو، تاسو هم کښينئ مونږ به تاسو هلته اورسوو. هغوئي ګويا چې په زړه زړه کښې د **الله** پاک د دې نعمت شکر ادا کړو او په ګاډي کښې کښيناستلو د **الله** پاک هغه نيکانو بندګانو هغوئي مزدلفے شريفې ته اورسولو.

طواف و سعی گرچہ تم کو تھکا دیں　　کئے جانا صَبر اَجر اِس میں بڑا ہے
مِنٰی اور عَرفات میں بھیڑ ہو گی　　کئے جانا صَبر اَجر اِس میں بڑا ہے

## د شبِ قدر نه هم افضل

د بعضې علمائے کرامو په نزد د مزدلفے شپه د حاجي د پاره د "شبِ قدر" نه هم غوره ده. د مزدلفے په میدان کښې د شیطان ویشتو د پاره کاڼي راخستل بهتر دي.[1] امیر اهلسنت چې شپه تیره کړه نو د وقوفِ مزدلفه نه فوراً پس ئې د رمي جَمرات (یعني د شیطان د ویشتلو) د پاره مِنیٰ ته تشریف یوړلو.

## د یو کَس ژوند ئې بچ کړو

د وقوفِ مزدلفه نه پس د حاجیانو صاحبانو ډلې د رمِي جمرات د پاره روانیدلې. په هاغه ورځو کښې د حج په وخت د شیطان ویشتو په ځائے کښې به د زیات رش وغیره په وجه حادثے پیښیدلې، ډیر حاجیان به د ښپو لاندې راتللو په وجه وفات کیدل. امیرِ اهلسنت په یو ځائے کښې د مړو یو ډیرے اولیدو نو ډیر حیران شولو بیا پته اولګیده چې صرف دا یو ډیرے نه دے بلکه په مختلفو ځایونو کښې داسې مړي راجمع کولے کیږي. هغوئي مخ په وړاندې روان وو، ناڅاپه هغوئي یو کَس اولیدو چې هغه په ګنه کښې راپریوتو، نزدې وه چې هغه د ښپو لاندې راغلے وے، امیر اهلسنت وربنکته شو او د دواړو لاسونو نه ئې اونیولو او راوچت ئې کړو اګرچه په داسې رش کښې زمکې ته ښکته کیدلو کښې یا د زمکې نه د څه خیز په راوچتولو کښې ډیره اندیښنه وي چې د وروستو نه راتلونکے د خلقو سیلاب ئې را اُوغورځوي او بیا پرې د پاسه ور اوخیژي او د پاسه پرې تیر شي خو هغوئي د یو مسلمان د داسې راغورځیدو او

---

[1] ... د کاڼو راټولولو او د رمِي جمرات د طریقے د پاره د امیر اهلسنت کتاب رفیق الحرمین د صفحه 183 نه 191 پورې اولولئ.

د ښپو لاندې د راتللو نظاره نشوه ليدلے. د هغوئي دوست هغوئي ته اووئيل: الياسه! دا دې څه اوکړل؟ نو هغوئي مُسکي شول او اوئي فرمائيل: ”د هغه د زړه نه تپوس اوکړه.“ يعنې چې څوک د مرګ نه بچ شو د هغه نه پوښتنه اوکړه چې هغه به څومره خوشحاله وي.

## د شيطان د ويشتو په وخت دا تصور کوئ

ولې چې په وړومبئ ورځ غټې شيطان ويشتلے کيږي، اميرِ اهلسُنت هم رمي اوکړه [يعنې شيطان ئې په کاڼو ويشتو]. هغوئي فرمائي: د شيطان ويشتلو په وخت دا تصور کول پکار دي چې کوم شيطان (يعنې همزاد) په ما باندې مسلط دے زه هغه اُولَم.

## د حج قرباني

بيا هغوئي د خپل ملګري سره څاروے واخستو او د قربانئ د پاره ئې د قربانئ ځائے ته تشريف يوړلو، هلته خلقو د قربانئ د پاره چړې خرڅولې، هغوئي يو چاړه واخستله او خپل او د خپل ملګري څاروے ئې په خپلو لاسو ذبح کړو، چې دا ئې اوليدل نو نور حاجيان صاحبان هم راغلل چې زمونږه څاروي هم ذبح کړئ. هغوئي د خير خواهئ او همدردئ په جذبه بغير د څه معاوضے نه اته څاروي ذبح کړل.

## يو ځل بيا غيبي مدد

د قربانئ نه چې فارغ شو نو په احرام باندې ئې د وينې يو څو څاڅکي شوي وو. په دې موقع باندې ترينه دا دوست هم بے درکه شو او هغوئي يواځې پاتې شول. ماسپښين شوے وو، امير اهلسنت ته د ماسپښين لـمونځ ادا کول وو او په بدن باندې د وينې لګيدلي احرام نه علاوه ورسره نورې هيڅ جامے نه وې چې اچولے ئې وے او لـمونځ ئې ادا کړے وے. امير اهلسنت د لوږې او تندې په حالت کښې يواځې روان وو د مِنیٰ د دَرې په لارو کښې ئې د

انتظامیه له خوا په ډیوټۍ مقررو عربیانو نه پوښتنه کوله: ”فَیْنْ سُوْقُ الْعَرَبْ“[1] یعني سُوق العرب (نومې یو ځائے) چرته دے؟ چا به فَوق یعني بره اړخ وئیلو او چا به تَحت یعني کوز اړخ ته د تللو وئیل. وروستو پته اولګیده چې دا حضرات د عرب شریف د خوا و شاه اړخونو وغیره نه خاص طور د حج په ورځو کښې د ډیوټۍ د پاره راځي کیدے شي چې هغوئي ته هم د لارو دومره معلومات نه وو. هغوئي د ګاډي والا یو عربي ګس ته سلام اوکړو او په خپل انداز کښې ئې ورته خبره اوکړه چې د خپلې قافلے نه جُدا شوے یم، زه ”سُوقُ العَرَب“ ته تلل غواړم. هغه ښه سړي هغوئي په خپل ګاډي کښې کښینولو او روان شو، په لاره کښې هغه هغوئي له د خوراک د پاره یوه منه هم ورکړه. په لاره کښې ډیر رش وو، تر لرې لرې پورې د خلقو سرونه ښکاریدل، ګاډے په قلاره قلاره روان وو. په ډیره سخته هغوئي ”سُوقُ العَرَب“ ته اورسیدل نو ډرائیور اووئیل: ”هٰذا سُوقُ العَرَب“ یعني دا سُوقُ العرب دے. هغوئي د ګاډي نه راکوز شولو او یو ځل بیا د نامعلومه منزل په لار روان شولو. هغوئي ته د یو معلّم نوم ورپاد شو. بس بیا څه وو، په پوښتنه پوښتنه د هغوئي د خیمے په لور روان شولو ځکه چې د کهارادَر، میټهادر وغیره میمن حاجیان صاحبان به په دغه خیمه کښې وو. هلته چې اورسیدلو نو د شهید مسجد خپل یو مقتدي مرحوم حاجي علي برکاتي (رنګیلا) سره میلاو شو، هغه پوخ عاشقِ رسول او په برکاتیه سلسله کښې د تاج المَشائخ حضرت سید محمد میا مارِهروي رحمۃُاللہِ علیه مُرید وو، دوئي هغه ته اووئیل چې زما نه د خپلې قافلے ځائے هیر شوے دے. زه د ماسپښین لـمونځ کول غواړم او زما په جامو وِینه لګیدلې ده، که د اوبو بندوبست اوشي [نو ښه به وي]، هغه د اوبو ګیلن راوړلو او هغوئي له ئې ورکړو. اتفاقي خبره وه چې د امیر اهلسنت د مرحوم ورور عبد الغني ځوئ او د

[1] ...عربۍ کښې د اَینَ معنیٰ ده ”چرته“. په عرب شریف وغیره کښې عوام اَینَ ته فین وائي ځکه هغوئي دا اوفرمائیل.

هغوئي ورارۀ ”حاجي انور عُرف حاجي پے“[1] هم حج له راغلي وو، هلته هغه هم د هغوئي سره میلاو شو، هغوئي د هغه سره خبرې کولې چې د ”وور! وور!“ چغې شوې او د وور لـمبې ښکاره شوې.[2]

## هر طرف ته وور

د هغوئي هغه ملګري کوم چې د اوبو بوتل هغوئي له ورکړے وو، هغه اووئیل چې زه د خپلو پیسو بیلټ راخلم او د دې وئیلو سره ئې فوراً د خپل سامان په لور منډې کړې. امیر اهلسنت اوفرمائیل: زما دولت خو د اوبو دا یو بوتل دے او زه د ماسپښین لـمونځ کول غواړم. د دې افراتفرئ په ماحول کښې هُم هغوئي اونه ویریدلو، کله چې د خیمې نه بهر راغلو نو اوئې کتل چې د وور لـمبې د آسمانه سره خبرې کوي او خلق د پریشانئ په حالت کښې یو خوا بل خوا منډې وهي. څه وخت پس هیلي کاپټرې راغلې او په وور باندې د قابو موندلو د پاره ئې اوبه راوېشتلې. امیر اهلسنت خلقو ته د منډو وهلو او افراتفرئ وغیره نه د بچ کیدو د

---

[1] ... په میمنئ ژبه کښې ”پے“پلار ته وئیلے شي. د امیرِاهلسنّت د والدِ محترم حاجي عبدُ الرحمٰن رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه په نوم باندې د امیرِ اهلسنّت ورور عبدُ الغني صاحب د خپل ورور نوم عبد الرحمٰن کیښودے وو هغه به د مینې نه په ”حاجي پے“ نوم سره رابللے شو.

[2] ... مخکښې به د حج په موقع باندې په مِنٰی شریف کښې تقریباً هر کال اور لګیدو ځکه چې حاجیانو صاحبانو به د ځان سره چولهے وړلې. بیا هلته انتظامیې په چولهو وړلو باندې بندیز اولګولو نو بعضې خلقو به په پټه وړلې. که پولیس والؤ به اولیدلې نو ماتولې به ئې. د سزا د نشتوالي په وجه به خلقو په دې سوچ ځان سره چولهے وړلې چې که چرې ګیر هم شُو نو صرف چولهه به رانه ماته کړي. دغسې د اور لګیدو سلسله ختمه نشوه او کله چې به هم اور لګیدو ډیر خلق به مړه کیدل بیا ئې دا حل راویستو چې په منیٰ شریف کښې Fire Proof یعنې د وور نه محفوظه خیمې اولګولے شوې. اَلحمدُلله! په دې لحاظ سره اوس د حج انتظامات د مخکښې په مقابله کښې ډیر بهتر دي چې له وجهې ئې ډیره آساني راغلې ده.

احتياطونو ښودلو کوشش اوکړو چې وور ډير لرې دے په تاسو پسې رامنډې نه وهي خو په هغه ګڼه کښې به چا دا خبره اوريدله او ځوک به اودريدل![1]

## د لـمونځ فِکر

خلقو د ځان بچ کولو د پاره يو خوا بل خوا منډې وهلې خو د امير اهلسنت سره په دې ازميښت کښې هم د لـمونځ ادا کولو فِکر وو، هغوئي يوې خيمے والا ته اوفرمائيل: د قربانۍ د وينې په وجه زما احرام بے لـمانځه شوے دے لږ ځائے راکړئ د پاره د دې چې په اوبو باندې بدن وغيره پاک کړم او لـمونځ اوکړم، دا ئې چې واوريدل نو يو بے باکه ګس اووئيل: مولانا! "زمونږه جامے هم په وينو ګنده دي مونږ هم داسې لـمونځ کړے دے زړه خو مو پاک دے کنه"، مَعَاذَاللّٰه!.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا ډيره سخته جمله ده، په دې جمله کښې د کفر اړخ راوځي. ځکه چې د لـمونځ د پاره طهارت شرط دے او د ذبحې په وخت راوتونکې وينه ناپاکه وي. هغه بدنصيبه ګويا چې د لـمونځ د شرط نه انکار اوکړو چې زړه خو مو پاک دے کنه؟ د داسې ګس د پاره ضروري دي چې هغه د دې خبرې نه توبه اوکړي او کلمه اولولي او بيا نکاح اوتړي، بهر حال امير اهلسنت د هغه ځائے نه بهر د واش روم په لور لاړلو، بس د هغوئي سره هم يو فِکر وو چې زما نه لـمونځ قضا نه شي، دلته بيا مرحوم حاجي علي برکاتي (رنګيلا) ميلاو شو، هغوئي هغه ته اوفرمائيل: تاسو خو لـمونځ کړے دے، ما له خپل احرام راکړئ او زما احرام تاسو واغوندئ، هغوئي د اوبو په دوو بوتلو په بدن لګيدلې وينه صفا کړه

[1] ...خدائے دې نه کړي که چرې په افراتفرۍ وغيره ازميښت کښې ګير شئ نو خلقو سره د منډو وهلو په ځائے د ديوال يا ستنې وغيره سره پټ شئ د پاره د دې چې منډې وهونکې تير شي، ګنې تاسو که د هغوئي په رفتار سره منډه نه شئ وهلے نو په دې وجه يا په څه بله وجه د راپريوتو او د خلقو د ښپو د لاندې راتلو خطره وي.

او د اوبو نورې دوه بوتلې ئې واخستې او اَلْحَمْدُلِلّٰه! په وخت ئې د ماسپښين لـمونځ ادا کړو.

هر عبادت سے برتر عبادت نماز ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## حلق او طوافِ زيارت

د حَلق شريف نه پس مکۀ پاک ته حاضر شو او د حج د دويم اهم ترين رُکـن "**طوافِ زيارت**" سعادت ئې حاصل کړو او دغسې ارکانِ حج مکمل شول خو اوس لا د يولسمې او دولسمې رَمې پاتې وه. هغوئي بيرته مِنٰى شريف ته لاړلو. په مِنٰى شريف کښې چې په کوم ځائے کښې وور لګيدلے وو هلته د هغوئي سره بے درکه شوې ملګري ميلاو شول. د خيمے سهولت نه وو. امير اهلسنت به په هاغه ورځو کښې د کراچۍ د کهارادر د علاقے په نور مسجد کښې امامتې کوله. په لاره کښې د نور مسجد سره نزدې اوسيدونکے يو حاجي صاحب ميلاو شو، هغه هغوئي ته ځان سره د پاتې کيدو بلنه ورکړه کومه چې دوئي قبوله کړه. دوئي خپل پيژندګلو کس ته د سحر د لـمونځ د پاره د راپاڅولو تاکيد اوکړو او د آرام کولو د پاره څملاستلو. خو د ډيرو ورځو د ستړي والي باوجود سحر د چا د راپاڅولو نه بغير ئې پخپله سترګې اوغړيدلې او د سحر لـمونځ ئې ادا کړو. په هاغه ورځو کښې به د اوبو ډير کمے وو. د اوداسه په ځايونو کښې به ډير رش وو. ډير ځل به په پيسو د اوبو اخستو سره ګزاره کول وو. په دويمه شپه هغوئي له د سحر د لـمونځ ادا کولو د پاره د اوبو د کمې د انديښنے او د ستړي والي په وجه سحر د سترګو نه غړيدو د انديښنے په وجه خوب نه ورتللو. هغوئي يو بوتل د اوبو نه ډک کړو او هغه بوتل ئې د يوې ستنې [پِلر] شاته پټ کړو او پخپله ئې ستنې ته ډډه اوهله او کښيناستلو، په ناسته ناسته ورله خوب ورغلے. د سحر د لـمونځ په وخت ئې سترګې اوغړيدلې نو د خوب په حالت کښې ئې بوتل ته لاس ور وړاندې کړو نو څه ګوري! چې د اوبو بوتل نشته، بيا ئې په څه طريقه

باندي اوبه حاصلي کړي او د سحر لـمونځ ئي ادا کړو.

## امير اهلسنت او لـمونځ

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! امير اهلسنت د فرائضو او واجباتو سره سره د سُنتو او مستحباتو هم ډير پابند دے نو دا ځنګه کيدے شي چې د هغوئي نه فرض لـمونځ قضا شي؟ هغوئي د لـمونځ په معامله کښې ډير حسّاس دي. هغوئي فرمائي: ما ته ياد نه دي چې زما نه په ژوند کښې چرته لـمونځ قضا شوے وي بلکه هغوئي بهر ملک ته د سفر د پاره هم د داسې فلائټ ټاکنه کوي چې په مينځ کښې ئې د يو لـمونځ وخت رانشي ځکه چې په جاز وغيره کښې د لـمونځ کولو دپاره اودس کول څه آسان کار نه دے. يو څو کاله مخکښې د هغوئي آپريشن وو نو هغې کښې ئې هم ډاکټر نه د ماسخُتن د لـمونځ نه پس وخت اخستل خوښ کړو د پاره د دې چې د آپريشن او بے هوشئ وغيره نه پس [د ماسخُتن لـمونځ قضا نه شي او بيا] د سحر لـمونځ په وخت ادا کړے شي. امير اهلسنت خپل د نعتونو کتاب "وسائلِ فردوس" کښې د لـمونځ په باره کښې ليکي:

| | |
|---|---|
| پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ | قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز |
| بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیئے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز |
| جو مسلمان پانچوں نمازیں پڑھیں | لے چلے گی انہیں سُوئے جنت نماز |
| ہوگی دنیا خراب آخرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز |
| یاخدا تجھ سے عطّآر کی ہے دعا | مصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمت نماز |

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

اے د امير اهلسنت عاشقانو! مونږ له هم پکار دي چې د فرض لـمونځ په ادا کولو کښې د هيڅ قسمه کوتاهي اونکړو بلکه پينځه واړه لـمونځونه د جَمعې سره په وړومبي صف کښې

ادا کوو. د عاشقِ مدینه د حج د دې سفر نه په واپسۍ کښې د لـمونځ د پابندۍ په باره کښې یوه بَله واقعه اولولۍ په کومه کښې چې هغوئي یواځې د خپل لـمونځ حفاظت اونکړو بلکه د ځان سره ئې ډیر حاجیان صاحبان هم د ګاډي نه کوز کړل او د سحر د لـمونځ کولو ترغیب ئې ورکړو. واقعه اولولۍ او د 72 نیک اعمال رساله کښې نیک عمل نمبر 3 ''آیا نن تاسو په کور، بازار، مارکیټ وغیره چرته چې هم وۍ هلته د لـمونځونو په وختونو کښې د لـمونځ کولو نه مخکښې د لـمونځ دعوت ورکړے وو؟'' باندې د عمل کولو نیت اوکړۍ.

## د مکۀ پاک نه بیرته مدینے منورې ته واپسي

حاجیو!آؤ شہنشاہ کا روضہ دیکھو کعبہ تو دیکھ چکے کعبے کا کعبہ دیکھو

د سیدي اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ د دې مبارک شعر ګویا حقیقي فیضان، د حج قبولیت موندلو او د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د روضے مبارکې د دیدار د پاره عاشقِ مدینه د مناسِکِ حج ادا کولو نه پس یو وارې بیا مدینے ته روان شولو نو هغوئي د ډیرو حاجیانو صاحبانو سره مدینے ته تلونکي په یو ټرک کښې کښیناستلو، د سفر شروع کیدو نه مخکښې هغوئي ډرائیور ته تاکید اوکړو چې په لاره کښې په مناسب ځائے کښې د سحر د لـمونځ ادا کولو د پاره ګاډے اودروۍ. شپه وه، چې سفر شروع شو نو په ناسته ناسته ورله خوب ورغلے. چې سترګې ئې اوغړیدلې نو ټرک په صحرائے عرب کښې د مدینے منورې په لور روان وو، امیر اهلسنت په آسمان کښې څه سپین والے اولیدو نو داسې معلومیده چې د سحر د لـمونځ وخت شوے دے، هغوئي د ''صلوٰۃ صلوٰۃ'' یعني د لـمونځ لـمونځ نعرے کړې او ورسره ئې په زوره د ټرک اړخ اوډبولو، ډرائیور ټرک اودرولو. ټول خلق راکوز شول. هغه واقعي چې صحرائے عرب وه. هرې خوا ته خاموشي وه او تر لرې لرې پورې د اوبو څه دَرَک نه لګیدو. هغوئي سره د آبِ زم زم شریف بوتل وو، مَاشَآءَ اللہ! هاغه وخت هم هغوئي ته د شرعي مسئلو

وغيره په باره کښې خومره معلومات وو چې هغوئي حاجيانو ته اوفرمائيل: زما سره آبِ زم زم دي ځکه زه تيمم نه شم کولے(1). او که چا سره اوبه نه وي هغه دې تيمم اوکړي. (فتاوى تاتارخانيه،234/1) د **الله** پاک او د هغه د آخري نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په فضل و کرم سره د سحر د لمونځ ادا کولو نه پس هغوئي يو واري بيا د مدينے په لور سفر شروع کړو او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې اوس هغوئي "حاجي" جوړ شوے حاضر شولو. په وسائل بخشش کښې دي:

سرکار پھر مدینے میں عطّارؔ آگیا — پھر آپ کا گدا شہِ اَبرار آگیا
عاصی پہ کیجئے کرم اے شافِعِ اُمم — عطّارؔ مغفرت کا طلب گار آگیا

(وسائل بخشش، ص198، 199)


صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

(بقيه په راتلونکي قسط کښې.... [اِنْ شَآءَاللّٰهُ الكريم])

---

[1] ... په فتاوىٰ رضويه کښې دي: زمونږ د ائمه کرامو په نزد په زم زم شريف اودس او غسل کول بِلا کراهت جائز دي. (فتاوىٰ رضويه، 452/2 ملخصاً)

د راتلونکې هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net